**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوښتنې ځواب**

**د سعودي-ایران پخلاینه**

(ژباړه)

**پوښتنه:**

د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۰مه، د سعودي او ایران د اړیکو بیا پیلولو او په دوو میاشتو کې د خپلو سفارتونو پرانیستلو په تړاو د سعودي، ایران او چین ګډه اعلامیه خپره شوه. د دغه تړون د تایید لپاره د سعودي پاچا د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۹مه، د ایران ولسمشر ته بلنه ورکړه چې سعودي ته سفر وکړي. دغه خبرې اترې د چین په کوربه‌توب او ملاتړ ترسره شوې. په دې تړاو د امریکا دریځ مثبت و او د مذاکراتو هرکلی یې وکړ. بلخوا یهودي ادارې د یادو مذاکراتو په تړاو غوسه څرګنده کړه. ولې چین یاد رول لوبوي، څوک یې هڅوي او په دې تړاو د پام وړ ټکي څه دي؟ ولې امریکا پخپله دغه رول ونه لوباوه؛ ایا دا د امریکا د ګټو پر ضد او که د امریکا د ګټو لپاره دی؟ ولې یهودي اداره له دغه تړون څخه ځورېږي؟ جزاک الله خیرا.

**ځواب:**

د ځواب روښانه کولو لپاره دغه موضوعات څېړو:

۱- د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۰مه، د سعودي خبري اژانس (SPA) د سعودي او ایران ترمنځ ګډه اعلامیه خپره کړه؛ په یاده اعلامیه کې ویل شوي وو: «دواړو لورو هوکړه کړې چې په دوو میاشتو کې ډیپلوماټیکې اړیکې بیا پیلوي او سفارتونه او استازولۍ بیا پرانیزي». هغوی هوکړه کړې چې «د دولتونو حاکمیت ته درناوی کوي، یو د بل په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي، د ۲۰۰۱ کال د امنیتي همکارۍ تړون را ژوندی کوي او د اقتصاد، سوداګرۍ، پانګونې، ټېکنالوژۍ، ساینس، کلتور، سپورټ او ځوانانو په برخه کې د ۱۹۸۸ د عمومي همکارۍ تړون فعالوي. په دغه تړون کې د سعودي او ایران د بهرنیو چارو وزیرانو ناسته شامله ده چې له مخې یې یادې چارې ترسره کېږي، سفیران تبادله کېږي او د دواړو لورو ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا پر لارو چارو بحث کېږي».

یاده اعلامیه همدارنګه صراحت لري چې «سعودي عربستان او ایران په ۲۰۲۱-۲۰۲۲ کلونو کې د دواړو لورو ترمنځ د خبرو کوربه توب په تړاو له عراق او عمان څخه مننه کوي». د دې لپاره چې دغه تړون پیاوړی او مستند کړي، د ایران د ولسمشر سیاسي مرستیال محمد جمشیدي د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۹مه پر خپله ټویټر پاڼه،

ابراهیم رییسي ته د سعودي د پاچا لیک خپور کړ... په لیک کې راغلي چې د سعودي پاچا د دوو وروڼو هیوادونو ترمنځ د تړون هرکلی کوي او نوموړي ته بلنه ورکوي چې ریاض ته سفر وکړي». د ایران د بهرنیو چارو وزیر حسین عبدالهیان وویل، «د تېرو لسو ورځو په ترځ کې، موږ د سویس هیواد له لارې پیغامونه تبادله کړل؛ یو پیغام دا و چې ایران د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه یوې ناستې ته چمتو دی او د دغې ناستې لپاره یې درې ځایونه وړاندیز کړي». ده تړون ته د رسېدو لارې ته په اشارې وویل، «تهران او ریاض پینځه پړاوه خبرې د عراق په پلازمېنه، بغداد او درې پړاوه خبرې د عمان په پلازمېنه، مسقط کې کړې دي». وروسته د چین ولسمشر پرېکړه وکړه چې د یوه پلان له مخې یاده پروسه مخ ته یوسي او پایله یې موږ وینو. له نوموړي څخه د یمن په تړاو پوښتنه وشوه، هغه وویل، «موږ دا د یمن د خلکو موضوع بولو. البته، د ایران او ریاض ترمنځ د شوي تړون یوه برخه په سیمه کې سوله ده.» (ایرنا تسنیم خبري اژانس، ۲۰۲۳/۳/۱۹). خو والسټریټ ژورنال د امریکایي او سعودي چارواکو په حواله وویل، «ایران هوکړه کړې چې په یمن کې به خپلو متحدینو، حوثیانو ته د پټو وسلو لېږد بندوي او د چین په منځګړیتوب تړون د یوې برخې په توګه له سعودي سره ډیپلوماټیکې اړیکې بیا ځلي پیلوي» (بي بي سي، ۲۰۲۳/۳/۱۹). د ایران رسمي خبري اژانس (ایرنا) د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۹مه وویل چې، «دغه پخلاینه به په یمن کې اوربند چټک کړي او د ملي دیالوګ په پیل او د ټولګډونه ملي حکومت په تشکیل کې به مرسته وکړي». وروسته د یمن د بهرنیو چارو وزیر، احمد عواد بن مبارک وویل، « موږ هیله لرو چې د سعودي او ایران ترمنځ تړون به په سیمه کې د اړیکو یو جدي پړاو رامنځته کړي چې په پایله کې به د سیمې هیوادونو په کورنیو چارو کې د تهران لاسوهنه پای ته ورسوي.» (د یمن بهرنیو چارو وزارت وېبپاڼه، ۲۰۲۳/۳/۱۷). نو دا په ډاګه شوه چې خبرې په ۲۰۲۱ -۲۰۲۲ کلونو کې په عراق او عمان کې بشپړې شوې، خو لاسلیک یې د دغو هیوادونو پرځای په بیجینګ کې وشو!

۲- دغه راز، دا ګډه اعلامیه صراحت لري چې د سعودي او ایراني پلاوو ترمنځ بحثونه د مارچ له ٦مې تر ۱۰مې په بیجینګ کې وشول، «شاهي کورنۍ د چین ولسمشر، ښاغلي شي جین پېنګ د پلان هرکلی کوي. شاهي کورنۍ د ثابتې او دوامدارې تګلارې پر بنسټ؛ د ښه ګاونډیتوب اصول په پام کې نیسي، هر هغه ګام اخلي چې په سیمه او نړۍ کې امنیت او ثبات ته وده ورکوي او د اختلافاتو حلولو لپاره د خبرو اترو او ډیپلوماسۍ اصولو منلو ته ژمنه ده». چین؛ سعودي او ایران دواړه خپل سوداګریز شریکان ګڼي، له دواړو هیوادونو سره یې هر اړخیز سټراټېژیک شراکت رامنځته کړ، د ۲۰۲۲م کال په ډسمبر کې یې له سعودي سره دا ډول یو تړون لاسلیک کړ او دغه راز په ۲۰۲۰ کې یې له ایران سره د ۲۵ کلنې سوداګریزې او سټراټېژیکې همکارۍ تړون وکړ.

دې ته په کتو یو څوک داسې انګېرلی شي چې چین پر دواړو هیوادونو نفوذ لري او پر هغوی تړون تپلای شي. خو موضوع داسې نه ده، په منځني ختیځ کې د چین نفوذ او ځواک نشته؛ په دغه سیمه کې مخینه نه لري؛ په نړیوال منځګړیتوب کې یې هم شالید نه تر سترګو کېږي او په لومړي ځل په منځني ختیځ کې د دوو هیوادونو ترمنځ منځګړیتوب کوي. له دغې بیانیې ښکاري چې سعودي او ایران خپله له چین څخه غوښتي چې د دواړو هیوادونو ترمنځ منځګړیتوب وکړي (د هغوی په دې غوښتنه کې چې اختلافات د خبرو اترو او ډیپلوماسۍ له لارې حلوي)، په یاده بیانیه کې دغه موضوع ښکاره ده! دا خبرې اترې د دواړو هیوادونو ترمنځ د ۲۰۲۱م کال له اپریل راهیسې، په تېرو دوو کالو کې وده کړې ده. عراق د لومړي وزیر، مصطفی الکاظمي په دوره کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د لومړي پړاو خبرو اترو کوربه‌توب کاوه، نوموړي له دواړو لورو سره ښې اړیکې لرلې او د امریکا کس و. وروسته د خبرو اترو نور پړاوونه په عمان کې وشول؛ د دې امکان و چې تړون په عراق یا عمان کې اعلان شي؛ خو دا کار په چین کې وشو!

۳- دا چې تړون ولې په چین کې اعلان شو، داسې ښکاري چې امریکا د فریب له لارې چین ته د پخلاینې بشپړولو رول ورکړ او تړون یې وروسته تر هغه اعلان کړ چې په بغداد او مسقط کې خبرې وشوې؛ د دې لپاره لاندې دلایل شته:

الف: امریکا له ایران سره ډیپلوماټیکې اړیکې نه لري او همدا رنګه نه غواړي په ډاګه کړي چې ګواکې له ایران سره یې اړیکې ښې دي؛ بلکې غواړي وښيي چې دښمني ورسره لري. امریکا د دې په ډاګه کول نه غواړي چې ایران یې پر محور را څرخي او تګلارې یې پلي کوي؛ ایراني چارواکي پخپله هم دا خبره مني.

ب: امریکا غواړي له چین سره د یوه نړیوال اقدام په کولو کې مرسته وکړي ترڅو له دې لارې له هغه لار ورکه کړي او فکر وکړي چې په نړۍ کې ابرځواکه شوی، وروسته یې د ځینو ماموریتونو په سپارلو سره تېرباسي؛ لکه روسیه یې چې د سوریې او نورو مسایلو باندې تېر ایستله.

ج: امریکا چین پوهوي چې که غواړي نړیوال اغېزناک هیواد شي؛ باید له روسیې سره نه، بلکې له امریکا سره همکاري وکړي. امریکا دا لمځونه د چین پر وړاندې د یوې وسلې په توګه کاروي، که یې له تګلارو سرغړونه کوي، له نړیوال نفوذ څخه یې بې برخې کوي او په لومه کې یې ښکېلوي؛ لکه روسیه یې چې کړه.

د: امریکا؛ سعودي او ایران وهڅول چې د چین د ملاتړ غوښتنه وکړي او تړون هلته لاسلیک شي، ترڅو ښکاره نه شي چې امریکا د تړون په کېدو کې مستقیم رول درلود؛ بلکې غواړي وښيي چې د تړون تر شا چین دی. داسې امریکا په یوه غشي دوه ښکاره ولي چې په لاندې ډول دي:

لومړی: امریکا غواړي هغه پلان شنډ کړي چې یهودي اداره له سعودي سره اړیکې عادي کوي او پر ایران برید کوي؛ په داسې حال کې چې امریکا د روسیې- اوکراین په جګړه کې بوخته ده، غواړي د امریکایي یهودو ملاتړو ډلو ملاتړ هم له ځان سره ولري.

دوهم: امریکا غواړي وښیي چې چین د دغه تړون ملاتړی دی، نه امریکا. له دې لارې غواړي راتلونکی کال امریکایي یهودي ملاتړې ډلې د بایډن پر وړاندې ونه درېږي؛ په ځانګړي ډول دا چې دغه تړون د یهودي ادارې لپاره یو سخت ګذار دی او هغه یې په غوسه کړې. امریکا غواړي وښیي چې د دغه تړون ترشا د چین لاس دی، نه د امریکا! دا چاره په امریکا کې مېشتو یهودو ته دا دلیل ورکوي چې د بایډن پر ضد اغېزناکو یا لږ تر لږه پیکه ټاکنیزو اقدماتو ته لار هواره نه کړي.

۴- داچې یهودي اداره ولې دغه تړون ته اندېښمنه ده؛ دا ځکه چې د هغې پلان یې ور شنډ کړ. کله چې د یهودي ادارې لومړی وزیر، نتنیاهو ایټالیې ته پر سفر و او له سعودي سره یې د اړیکو عادي کول زیاتول؛ د سعودي-ایران د اړیکو عادي کولو حیران کړ. نتنیاهو هک پک شو او د دغه تړون په تړاو یې اعلامیه ور نه کړای شوه. دا د یهودي ادارې پر مخ یوه کلکه څپېړه ده. د اسراییلو بهرنیو چارو وزیر پر تړون له تبصره کولو څخه ډډه وکړه ... یهودي تحلیلګران د سعودي-ایران پخلاینه د اسراییلو لپاره یوه څپېړه او ګوزار ګڼي او وایي چې دا د یهودي ادارې او سعودي ترمنځ د اړیکو عادي کولو کې یو خنډ دی او دغه راز اسراییلو ته یو پیغام دی چې پر ایران باندې له برید څخه پر شا شي.

اسراییلي ورځپاڼو او رسنیو د سعودي-ایران ترمنځ تړون د اسراییلو لپاره یو ګوزار ګڼي او دا د نتنیاهو د هغه اعلان په تړاو چې د عادي کولو دایره به پراخوي، یو خنډ دی ... د تړون رسمي اعلان د چین په منځګړیتوب د ریاض او تهران ترمنځ د اړیکو بیاځلي پیلولو ته لاره هواروي، تر دغه اعلان وړاندې نتنیاهو د ایټالیا له پلازمېنې، روم څخه بیانونه خپاره کړل، نوموړي وویل چې د حجاز رېل پټلۍ په بیا جوړېدو به د اردن له لارې د حیفا او سعودي په نښلول کېدو سره د تل ابیب او ریاض ترمنځ د اړیکو عادي کولو په تړاو د خپل حکومت د موخو ترلاسه کولو هڅو ته دوام ورکړي. (الجزیره، ۲۰۲۳/۳/۱۳).

د نتنیاهو حکومت له سعودي سره د اړیکو عادي کولو په موخه د ایران پر ضد د دښمنۍ پاللو شرط ایښی و، چې له ایران سره ښکېلېږي او پر ایران برید کوي، خو امریکا دا ټول رد کړل. له یهودي ادارې څخه د امریکایي چارواکو وروستۍ لیدنې په همدې موخه وشوې. د ډیموکراټانو په مشرۍ امریکایي ادارې د نتنیاهو حکومت ته د یوه باغي حکومت په سترګه ګوري. نتنیاهو له سعودي سره د اړیکو عادي کول د خپل ځان او خپل حکومت لپاره یوه ستره بریا ګڼله؛ ځکه دغه عاي کول به د هغه څه پر وړاندې د سعودي پټه خوله تایید وي چې دوی یې په فلسطین

کې او د ایران پر وړاندې کوي. موږ د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۰مه تر «یهودي ادارې څخه د امریکایي جګپوړي نظامي پلاوي لیدنه» سرلیک لاندې پوښتنه او ځواب کې په دې تړاو پوره وضاحت ورکړی.
دغه تړون نتنیاهو نا ارامه کړ او د خپلې ادارې لپاره یې یو بد خبر ګڼي [په یهودي پارلمان کې د بهرنیو چارو او امنیتي کمېټې مشر، یولي ایدیلستېین وویل: «ایران او سعودي اوسمهال هوکړه کړې چې خپل منځي اړیکې بیا پیلوي او دا چاره د اسرایلو او ټولې ازادې نړۍ لپاره بده ده» (الجزیره، ۲۰۲۳/۳/۱۱)]. نتنیاهو پوهېږي چې د دغه تړون تر شا د امریکا لاس دی، نوموړی همدا رنګه پوهېږي چې اداره یې د خلکو له رسۍ (مرستې) پرته دوام نه شي کولی او دا رسۍ په امریکا کې ده، ځکه نو غلی دی!

نوموړي غوښتل چې پر یادو موضوعاتو د بحث لپاره واشنګټن ته یو سفر وکړي، خو سفر یې رد شو! د راپورونو له مخې نتنیاهو د امریکا د ولسمشر شاوخوا کسانو باندې فشار راوړ چې سپینې ماڼۍ ته د سفر لاره ورته هواره کړي، خو ولسمشر بایډن یې د سفر مخه ونیوله. نتنیاهو پرله پسې واشنګټن ته د سفر غوښتنې وکړې، خو رد شوې. [بینیامین نتنیاهو له اوونیو راهیسې هڅې کولې چې واشنګټن ته یو سفر تنظیم کړي ترڅو په سپینه ماڼۍ کې میلمه شي؛ خو پرله پسې غوښتنې یې رد شوې (المصري الیوم، ۲۰۲۳/۳/۱۵)]. د قضایي تعدیلاتو په تړاو د بایډن تر نیوکو وروسته، ان د اسراییلو یوه وزیر خپل زغم له لاسه ورکړ او ویې ویل: «موږ د امریکا په بیرغ کې یو بل ستوری نه یو». د نتنیاهو دفتر تبصره وکړه: [د اسرایلو د لومړي وزیر دفتر راپور ورکړ چې بینیامین نتنیاهو د خپل حکومت وزیرانو ته لارښوونه وکړه چې د امریکا ولسمشر بایډن پر هغو بیانونو له تبصرې ډډه وکړي چې د قضایي تعدیلاتو د بندېدو غوښتنه یې کړې ... نتنیاهو تایید کړه چې له امریکا سره د اسرایلو ایتلاف ټینګ او ثابت دی (الجزیره، ۲۰۲۳/۳/۲۹)].

نو دا روښانه کېږي یهودیان ولې د سعودي-ایران د تړون په تړاو ناخوښه وو او دا چې د بایډن لخوا د نتیاهو د سفر د رد په اړه د یهودي ادارې د چوپتیا سبب څه دی.

۵- امریکا د یاد تړون هرکلی وکړ. د سپینې ماڼۍ ویاندې کرین جین پیري وویل: «امریکا له هغو راپورونو خبره ده چې ایران او سعودي ډیپلوماټیکې اړیکې رغولې دي، خو ډېر جزیات یې سعودیانو ته راجع کړل»، په ټوله کې، «موږ د هرې هغې هڅې هرکلی کوو چې په یمن کې جګړه پای ته رسوي او په منځنی ختیځ کې تاوتریخوالی کموي. هغې زیاته کړه، له همدې امله، ولسمشر بایډن تېر دوبی د خبرو لپاره سیمې ته سفر وکړ.» «د تاوتریخوالي کموالی، ډیپلوماسي او مخنیوی د هغې پالیسۍ مهم ارکان دي چې ولسمشر بایډن تېره جولای سیمې ته د خپل سفر په ترڅ کې وضع کړې وه. له همدې امله، په منځني ختیځ کې د تاوتریخوالي کموالی یو لومړیتوب دی او نوموړی یې هرکلی کوي» (سي ان ان، ۲۰۲۳/۳/۱۱).

د امریکا د ملي امنیت شورا د اړیکو همغږي کوونکي، جان کربي وویل، «سعودي موږ ته د خپلو خبرو په تړاو معلومات راکړل؛ لکه موږ چې د خپلو تعاملاتو په تړاو هغوی خبر کړل؛ خو موږ مستقیماً په دغو خبرو کې ښکېل نه وو». هغه زیاته کړه چې خلک په تړون کې د چین د منځګړیتوب په تړاو بې طرفه دي، په ځانګړي ډول دا چې دغه منځګړیتوب د یوه بحران په هکله دی او دا د واشینګټن له غوښتنې سره، چې ارام منځنی ختیځ غواړي، سم دی. (الخلیج انلاین، الجزیره، ۲۰۲۳/۳/۱۱). د دغه امریکایي چارواکي خبره چې ګواکي امریکا په تړون کې رول نه درلود؛ له هغې خبرې سره په ټکر کې وه چې امریکا له سعودي سره په اړیکه کې وه او د وضعیت اراموالي په موخه د چین رول د امریکا له غوښتنې سره سم و! نوموړي غوښتل چې د امریکا رول پټ کړي، خو په متناقضو خبرو کې یې دا رول افشا شو.

د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۴مه، د امریکا د ملي امنیت سلاکار، جک سیلیوان ومنله چې (سعودیان «له ایران سره د خبرو او تړون په ترڅ کې» د بایډن له ادارې سره په دوامداره اړیکه کې وو او زیاته یې کړه چې «واشینګټن دغه یوه مثبته هوکړه ګڼي چې له مخې یې په سیمه کې تاوتریخوالی پای ته رسېږي، دا تړون ځکه د چین په منځګړیتوب وشو چې د امریکا-ایران اړیکې په داسې وضعیت کې نه دي چې امریکا ته د شخړې حلولو په موخه د منځګړیتوب اجازه ورکړي» (الخلیج انلاین، ۲۰۲۳/۳/۱٦). همدا رنګه، د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ١٦مه، سعودي العربیه چینل د سعودي چارواکي په حواله وویل: «د سعودي شاهي کورنۍ له ایران سره د تړون تر لاسلیکولو وړاندې د امریکا په ګډون خپل متحدین په جریان کې کړي وو». سربېره پردې، الخلیج انلاین د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۷مه، د امریکایي چارواکو بیانونه خپاره کړل، «د عراقي سیاست تر شا مذاکرات ترسره کېږي او امریکا هغه هیواد دی چې ریاض یې د تړون د چارو چټکولو ته وهڅاوه».

له شک پرته، ځینې ایراني سیاستوال پوره خبر دي او د چارو داسې شنونکي شته چې پر لوبه پوهېږي. د ایران منځني ختیځ وېبپاڼه د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۲۱مه د ایران له فرارو وېبپاڼې نقل قول کوي چې د سیاسیي علومو استاد او د بهرنۍ پالیسي په برخه کې متخصص، مهدي مطهر په یوه مرکه کې وویل: «د سعودي او ایران ترمنځ د منځګړیتوب په چوکاټ کې د چین وروستي اقدامات د نړۍ د قدرتونو له ناستې سره تړاو لري ... د یوه تحلیلګر په توګه، زه دا نظر نه شم منلی چې چین دې د نړیوالو قدرتونو د فعالو غړو له همږغۍ پرته د ایران او سعودي ترمنځ د تاوتریخوالي په کمولو کې داسې یو ګام واخلي». له فعالو غړو څخه د نوموړي موخه امریکا ده، چې په نړیوال ډګر کې لومړۍ فعال لوبغاړی او په منځني ختیځ کې لوی اغېزناک هیواد دی.

له دغو ټولو ښکاري چې امریکا د دغه تړون غوښتنه کوله او غوښتل یې چې چین پکې منځګړی وي. د سعودي او ایران تر شا امریکا وه چې له چین څخه د دغه تړون د ملاتړ او لاسلیک غوښتنه وکړي.

٦- نو، د سیمې هیوادونه د امریکا لخوا وضع شوې تګلارې تعقیبوي، ترڅو په واک کې پاتې شي. کله چې امریکا له خپلو پیروانو – که یې مزدوران وي او که یې پر محور را څرخېدونکي - غواړي چې پوهاوي ته سره ورسېږي او په خپل منځ کې ستونزې حل کړي، د خبرو اترو لار نیسي. که امریکا ترې وغواړي چې د لانجې او تاوتریخوالي له لارې مخالفت وکړي، همداسې کوي او د دې لپاره دلایل راټولوي. که داسې نه وی، امریکا په سیمه کې هېڅ نه شو کولی. حللاره دا ده چې دغه لاسپوڅي رژیمونه راوپرځول شي او وروسته د خلافت تاسیس لپاره هڅې وشي، چې الله سبحانه وتعالی، د هغه رسول صلی الله علیه وسلم او مومنان پرې خوشاله کېږي. خلافت، مسلمانان په یوه واحد دولت کې سره یو کوي. الله سبحانه وتعالی د نبوت پر منهج د خلافت دولت ژمنه کړې ده:

**وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ**

*ژباړه: «الله سبحانه وتعالی له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، وعده کړې چې هرو مرو به هغوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي؛ لکه چې هغو کسانو ته یې خلافت ورکړی و چې له دوی څخه مخکې وو.» [النور:۵۵]*

دغه راز رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمايي:

**«ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

«وروسته به د نبوت پر منهج خلافت وي، بیا چپ شو» (امام احمد)

۱۴۴۴هـ.ق د رمضان ۱۰مه

۲۰۲۳م کال، د اپریل ۱